

Ketabton.com

# ورانګه

يوه ورانګه په لاس ورشي
آدم ولاړشي قدم ورانديٰ
بيا پيري په ځای ولاړوي
او تيري وي لاندي باندي

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړانګه

دکتاب نوم : وړانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین «هنریار»

بسم الله الرحمن الرحيم

په وياړ

د هغه ټولو مړيالو

چې د بنيادمو د ښتونو ځنې

تبځندی د پښو ځولانې او د-

لاسونو ولچکونه پرې کوي او دا

رنګ آدمزاد خپل قجير قامت

ته ور جګوي او ژوند نور

غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

ځوک یې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوربېدی[1] شي

ځان په بېنش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکې اودرېدی شي

څه په سر آسمانونې یې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نه رغونېدی شي

په خرډک[3] دي ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدی شي

د پېړو[5] تل[6] ته ولې پېلی[7]
له بریالو چې ملېدی[8] شي

د بازادارهنر دې نه نه ده
که نه یې چتي بازېدی شي

لیت او لاړ چې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱- نوربېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرډک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن
۵- پېړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله - جمعیت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸- ملتل = مل کېدل

که سواره لوی فرعونان دي
که کلیم ع شي کوږېدی شي
د برې لاري بند نه دي
که له سره ځوک تېرېدی شي

لوی کتاب د مېړانو
ګډه په وینه کې د ځانو کا
بیاد خټو کوکوښتان ټول
الوتونکي باتوران کا

دکلیم دودونه خپل کا
ړانسکوره زورجهان کا
پرېباسلي او نتلي[1]
ددوران قهرمانان کا

هغه ځوک چې مېړه خېل دی
ټینګ په ننګ او په خپل خُېل[2] دي
د زمرو ماړي[3] یې ژوند دی
چې د شنو زمرو د سېل دی

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- خُېل = هوډ، ۳- ماړي = ښکار.

ترمې وينې دی سکروټې

ترمې وينې هم رامبيل[1] دی

د خپل تنګ دې پاتې شوي

په کولنه[2] دی که په ښکېل دي

ښې ښنګه بې کوندې[3] شي

چې ځانګې[4] همه رشپېل[5] دي

دا طبيب به دې ښنګ روغ کړي

چې يې چارې د شا خپل[6] دي

چې د دروزې[7] يې تښې وي

په وينو پړاته غلبېل دي

چې جامه يې کاسيري[8] وي

څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي

د باتور انګې[10] وروستې ده

مشرې که په چارخويل[11] دي

---

۱- رامبېل = يوګل، ۲- کولنه = کټخه چې دغوېې، څاروي څښتنې يې اچوي چې د آزاد ګرځېدونه يې منع وساتي، ۳- کوندې = کامې ګټې - خلپل، ٤- ځانګې = درې غابنې ٥- رشپېل = چې دغلې رشې پرې بادوي، ٦- شاه خپل = چې شاه خليل کوي يعنې څرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغموړ ندړ - تيلې، ۸- کاسيرې = بد لمنې ۹- چېل = پروني، ۱۰- انګې = يوه لوبه چې وايي انګې انګې مل دی څوک دی ،

۱۱- چارخويل = قرقره

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متازه د سوئبل[2] دي
شاید بیا خلیل زرغون کړي
"مومنان" ټول آذرخیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ژوند په هر اړیکي وي چې
کلیمې ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام[3] پېټي
وړې تندې باندې مېړونه
د ملخې نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاخون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = اړولی ځمکه، ۲- سوئبل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس- توزیع

په جرګه کې چې لر و بر کړي
بلالي رض هغه بانګونه[1]
چې دا ځمکه د خدای کور کړي
دي هغه د څښتن ملونه

ننګیالي دي شاه میړونه
لکه حق یې کړه وړه وي
د ننګیال په مټ، په توره
دلته ار د څښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
د ننګیال د مزري زړه وي
تورځنګلو[2] نه خوندې وي
حق ننګې یې غرین کړه[3] وي
ساه یې واچوي جوش[4] کې
له پیړو پیړو چې مړه وي
د ناحق وړه[5] بتول پړه کړي
وړه هغه کړي، چې تل پښ وي

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورځنکلي = باطل کاره، ۳- غرین کړه = قلا- سنکو
۴- جوش = تنه ، ۵- وړه = بریالي .

ډ کيدړې په اوږو نه شي
چې په غرمب دښمنو زمرو شي
په تسپو مو سلو نه شي
چې په تورو، په نيزو شي
په منښتو[1] نه بوديږي
چې په وينو په خولو شي
چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!
ننګيالي يې شي کوټلی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاريخ بهير کړولی
کله څوک بې هوډه يالو شي؟
دراسمنو چارې کله
د نارامو[2] په ليکو شي
دژوندون د ميدان ګټې
په ډال غاړو تو ريالو شي
دځيرک ميړانه کله
له درست کلي د رندو شي

۱- منښته = زيارتونو ته دورو دپاره په ځان څه منل، ۲- نارام = ناغيږ- ناراست .

چې رنځور باویړی[1] وکړي
پوچې هیلي د داروشي
آدم وګوره ای مارکسه!
کله بې سود په کورکو شي
د څانګو د کوچنی نمړی[2]
پوره څه رنګ په ځلمو شي
چې د نمر د روڼاوي وي
روڼ به څنګ په اورکو[3] شي
عقل څه خوني اَتي دی
راسوري[4] په خپلو ملو شي
د ځیرک سر پوره والی
د حرړي په سیپارو شي

○

چې له مال خبره واوړي
پټ په سربندي پاله شي
کائنات چې په منګل کړي
دا سري سړي باله شي

---

۱- باویړي = بابېړي = د نلدوغې بیا تاندېدل، ۲- نمړی = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
۴- راسوري کېدل = راګرځېدل - راخلاصېدل - راختل.

لوښي نه تلي ښبا څوک
هم یو «زه یم» به تاله شي
ښکلی هغه چي ښیوه[1] یې
یو د «زه یم» په پساله شي
زه یم هرکله ځلمی دی
دي وجود چي زوړ ځاله شي
هغه ورځ به ستر سحر وي
چي دا ځمکه یو کاله[2] شي
په یولوی سین کي غرق لی
څري، څړ، لښتي، ویاله شي

د کتاب حد ماتی مه شي
هره لاره چي تړي
چي د ژوند د خیره نه وي
ورانوه لاړې زړي
حق به هله میشته وکا
لومړی غیر چي وشړي
یا سری یاد څړی شه
حق ناحق ولې ولړي

---
۱- ښیوه = دول - ښایسته والی، ۲- کاله = کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زېبښناکیان چې له مینځ ورک شي
پرکښې به شـــي مـــړي
لوی آتیان لکه اوګر(۱) کړي
د جګ غر تیــرې وږې

○

ستور ښار کو دواړه کسي
په ښار لو کړل تنــا کې
نرۍ وټ یې چرته بیـــاموند
برد ستورو په دنیـــاکې

○

له کاروبو او له ښکو
سره زر و بنګل کـیـږیـږو(۲)
الوول حـق و ناحـق دي
ښنګ ترا وسه ستړکورو؟

○

د بوذر(۳) د کندي خلق
د آذرود کنـدي دي
که هر څو مخ په کعبه دي
له بتانو پیـوندي دي

۱- اوګره د ښاروود خوړلونه وروسته پاتې کېدونکې ګیاه یا تیاننتې، ۲- کیږیکره کیږي کوونکې

جوړوي د ښېښو مېنې[۱]

ځېرکان خوشبینه ګروي

د وختونو په ناتار کې

چې یې وکوري د بړ[۲] وي

○

د وجود نیستي بلا ده

پرې له سوځخت مارکسان ژاړي

سر نیستي ده د نیش[۳] "زه یم"

دوه نیستي کلیمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو

د صورت هسې د وربړي

ولې "زه یم" یوتوکېز[۴] دی

یوتوکېزی نه نړېږي

○

حیواني وجود دي څه دی؟

د حجرو[۵] الوولتیا ده

او حجرې د خاورین توکو

خپل ترمینځه انډولتیا ده

۱- مېنه = کور، ۲- د بړ = سنګسار، ۳- نیش = ناشته - نیشت، ٤- یوتوکېز = د یوتوکی نه جوړ - چې ګډونیزه نه وي، ۵- حجره = Cells - ژوندینکی.

دا خاورینه واړه توکي
د بړېښنکو غوښې دي
او بړېښنکو ته چې ځیر شې
تشې ترقنده خپې دي

○

دین همه واړه سره زر دي
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندي غور ځانګه
مذهبونه یې چارمیخ

○

ګرلاسی کندوان یې ډک شول
چې جَب جوب شول په خولوکې
ځارله هغو توریالیو
چې په خپز دي سرخیږ(۱) وکې
غوړه(۲) ټوله دې په ځان بده
تش لمن که یې پسرلوکې
ساده ګوري ملغلرې
خُسا دندوکو، خرخوروکې

---

۱- سرخیږی = سرپړه ، ۲- غوړه = تومت- ګرم والی - ملامته

دا چې ګواښ په سترو کېږي

ته هم زوره څه نېزوکي

څه ناو يا ته چاره وکړه

مېړنيه ! په تلو تلو کې

---

ګوړيمار[1] چې د ببل وو

هغه سر په مونډو[2] دی

کړولي[3] چې د باز وې

په لولکو په شوغو دی

چې د بريد او د غدي وُ

د تسپو د موسلو دی

چې جرګې پرې ښايسته وې

هغه شرم د جرګو دی

چې ښتن د لوی اخور وُ

اوس د پوچو کښېدو دی

د تيرو تورو بُور[4] کې وُ

د بې سترګو د کندو[5] دی

---

۱- ګوړيمار = داتمان د مخې په لوبه کې په ببل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننه کې ويشتونکی
۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُت د تيلي ختې نه ښکته وچې کېږي لوښتی، ۳- کړولي = د ښکار ځيرکولی، ښارلود پاره د باز تاويدل راتاويدل، ٤- بور = زمری، ۵ = کندی = چم، محلت.

## د قرآن ځيني نامــــــنده
## څه د خوشو عقيـــدو دی

بازداري يولـوی هــنر دی

ته په يو بيله(1) بازداري
چې نه لري جــــېب
په نامه باندي ميشکاري(2)
تش غر،بازو وته ناستي
څه که ځيي د لوی بلاري
ته مير ښکاره کړېږ غــــواړي
په ښه ښه مــــرداري
يې په تـومنه له و يـارلو
خو په چارو کې د وياري(3)
له قرآن په غير هــٰذا
بې صلوٰة مونځ ګذاري
کله سرګريوان ته ګوز کړه
چې داولي دومره خواري ؟

---

۱- بيله: د څرمني تسمه چې د باز ښکنولو د پاره يې لاس ته اچوي، ۲- ميشکار: ښکاريان، ۳- ويار: شرم.

چې پتولنه قرآني وي

دا سرې به شهسرې[1] وي

دا تنزرې تاروګې به

بیا بازونه وهندي وي

دا پربوتې، دا انسټ[2] به

بیا نښترې آسماني وي

چې نومرې په قام قام دي

بیا به ټول یو آدمځي[3] وي

د نن شخولې[4] او کاتې[5] به

صبا توري او توبرې وي

په وندوی[6] ځمکې د نن به

نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي

نه به پولې، نه بېلتون وي

نه نها، نه زمایي وي

یو آدم، یو آدمتاله[7]

په کس رنګ به یو رنګي وي

---

۱- شهسرې = سترسرې، ۲- پربوتې انسټ = بوټی دی، ۳- آدمځی = د آدم زامن، ۴- شخوله = درسته، ۵- کاتې = ټیکی، ۶- وندوی = داسی حلال کړې ځلوی چې پکې خلقو برخې (وندوی) ملستی وی، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول اسټوګنی (ځمکزی یا آدم زی) را ټول وی یا سره راټاله وي

آدمخوني[۱] به يو کور وي

وران به کورکې کورکي وي

درناوی به وي په جسو

سپکاوي به بې جسّي[۲] وي

نه مريي نه به څښتن وي

نه به غټ، نه به نري وي

نه کاواک، نه به بې واک وي

چې الله به تولواکې وي

تولنوال به تولنوال له

رب، رحيم وي، او ولي وي

هم به يې کسب خالقي وي

هم توره[۳] به يې رازقي وي

وي پاخون لکه يو تن به

يو تاله به مختګي[۴] وي

له ختيځه تر لويديځه

به يو ستره ورورولي وي

په حدونو د کتاب کې

به د عقل خپل مخي[۵] وي

---

۱- آدمخوني = ځمکه، ۲- جسي = ورتيا = اهليت، ۳- توره = قانون - تره - ترلې لاره - لاره، ۴- مختګي = مخکې تګ، ۵- خپل مخي = خپلواکي - آزادي.

سين، د غاړو په درښت به

تل تر تله غړځنګي وي

يو ځار پېړي به له ټولو

ټول له يوه به لوکي وي

له قبلو دي ګډو وړو

به يوه کعبه موندي وي[1]

له زړها اوړ اوړکو به

دحړۍ يو رڼايي وي

سرې ټول به سره سيال وي

په فطرت[2] به يې ستروا کې وي

○

ستا خيرې درست کائنات دي

ته لاکوز په خرخشو[3] يې

پولې پولې ده لا ځمکه

خپل ترمينځه په دښنو[4] يې

ژوندله تنه ګډونيز[5] دی

ته ځان ځانې به ترځو يې

---

۱- موندنه = راکسل ناوي - دغوبل دمينځ غوبۍ، ۲- فطرت = نېچر، دبنيا دمنړيتره نوروټول کائنات، ۳- خرخشې = جنګونه، ٤- دښنه = دښمني، ٥- ګډونيز په ګډه هستيدونکي.

ځمکه یو کور ځکه نه شه
ته ترنن د کور کوې
یو کورمه[1] په واړه آدم دی
تن په قام، په قبیلو یې
دیوې حجرې زیږنده
د حجرو په بیل کلو یې

کړه بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجرې کاټولې
دا خواره واره قامونه
ستا مرام یو ورورولي ده
نه ملګري ملتونه
یو بیرغ په ځمکه جګ کا
کوز کا واړه بیرغونه
داوسلې د مرګ لاهو کا
سُر د امن کا تارونه
پدې ځمکې - آدمځوني
بیا برسېر کا جنتونه

---

۱- کورمه = کورنۍ.

یو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور ونغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزاد کا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

زول چا پیړه سور الوزي
ږږ ویزاره راپریوځي
له دې چې قند نا تاربه
هم پاخه بښتې وځي

چې د ژوند ځله یې مړه شي
چې یې ساه دلینګو وځي
راخوره شي پرې دلوړو
اور په خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بردی
دعوه کیږ دکتاب کوره
دهمه قامونولر دی

---

۱- سرتوره = دسرقانون - اساسي قانون - بنسټیز قانون، ۲- پارچاو = ډب - بند.

د زردارو په تړلني
دي ګټونکي په بايلني

د شته منو شته مني ده
د نيستمنو له نه بېبني

د ماړو کوښي[1] جوړيږي
د تش باڼو[2] له شرمني

د زردار ماڼۍ ولاړې
د کارګر په تنې پلني

د ډک لاس[3] سپينه جامه ده
د تش لاسو په ريمني[4]

بده ورځ د لولنګرو[5]
دازل نه دي ليکني

د باطل تولنه پايي
د مذهب په سروينځني[6]

---

١- کوښي = پيزار، ٢- تش باڼي = نيستمن، ٣- ډک لاس = چې لاس يې ډک وي
٤- ريمنه = خيرنه - خيچنه، ٥- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوېش نه لري، ٦- سروينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.

وګړي ټول که آذري غواړي

ځښتن له تا نه خلیلي غواړي

د فرعوني سپاره کوزولوله

واړه وختونه کلیمي غواړي

په تشو تیکو که کښتي کېږي

د ننګ ډګر لا شه ځلمي غواړي

وګړي ټول سرږقوي او پایي

حق د مېړه غوندي ځوندي غواړي

ښکېلاکي عمر د ځار وو دي ګوري[1]

ځوندی آدم به مخ کښي غواړي

د اباسین خوړي نیز او چلي[2]

د جالیوانو سرهنګي غواړي

په هسک او تل د حقیقت لټول

تل سربېري لېوني غواړي

چې د ځښتن لاره د ب کولی شي هم

ځوند د اسې زین او هک سرې غواړي

---

۱- وګوري = خبردار ، ۲- نیز او چلی = سیلاب او چپې.

○

دهِګ قامونو په خرخشو کې
واړه قامونه بې هیڅه دل شي
دمیکیاولي د شهزاد ګانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل ګندکونه به پرې ناتار کړي
کله چې که تنولي زمري تنه تهل شي
غښتلي متې دځان کلا ده
کمزوري متې دځان اجل شي
که سر ببري هوډ یالي پاڅي
په ریږکو[1] به داهِګ بدل شي

○

چې دحق سره په لار دی
لکه حق هسې بې شار دی
چې دحق دلارې بېل دی
په دنیا، په آخر خوار دی
یو ویاړلی دحق رنګ دی
بل هر رنګ آخر دو ویار[2] دی

---

۱-ریږکي=کوچنی-ورو کی-ناشی، ۲- ویار= شرم-پیغور.

چې تیغه[۱] کې حق ته ولاړ دی
د خدای هغه څوک په کار دی

د خپل "زړه" نا روزونکی
خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که کوږ ئ
ګل ورین هم تناړ چار دی

په توله چې د ټول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خیر د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مخدار[۲] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې
شیخ ملی وي دا دوترې

آدمزاد به دوه تپې وي
لرې برې نورې لرې

د ټولنو د لړمون به
زرینې لوږې او نهرې

---

۱- تیغه = برش - کږه وږه - نقش -

۲- مخدار = رویدار - دروند.

شي څو ورلې خلق به
بې دولتي[1]، يوه ځرې[2]
در په در خاوري په سر به
پر کښې وي لو لنګري
د هغو لوړو شور دا -
خپلو بدو له اشري
عقوبت په غرغنده وشي
چي دکيا[3] وي اورد سرې
تاله ټک د ادم ار دی
په يو ورځې برابري
چي پري دروي کائنات ټول
ستا هم هغه لار مخبري[4]

O

دا چي خان خانتوره[5] بولي
دا چي هر چېرته شمله دی
نيسمنان په کمنه[6] نيسي
وايي سپک دي ارکجه دی

---

۱- بې دولت = چي دوله نه لري، ۲- يوه ځرې = چي يوازي وي، ۳- دکيا = چي لوګي کوي،
۴- مخبري = په بر مخ، ۵- خانتوره = خان چي ټول پر انستل کوي چي د توري خان وي،
۶- کمنه = کم ذات - کم اصل - کم سيال



PROPERTY OF ACKU 7990

له ازل، وا یې بــربـیـال یو
نور په برخه شاګند[1] دي
دوی له مخ د خدایه رغ[2] دی
نور له پښو یې زیږ نده دي!
کومه نوره یې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د بیسنو کوم ګناه دی
چې نیمګړي، نیم کوره دي؟
او په هره یو ستوله
پړ، پرېوتي او روړ[3] دي!
که د اصل کړي پوښتنه
آدم زی ټول یو حجره دي
له یوې حجرې راغلي
قام، قبیل، تپه تپه دي
لوړ ژور دي له زبیښاکه
شته په نیشو[4] آلوده[5] دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمنې را زرغونه دي

---

۱- شاګنده = چې شایې لګېدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روړه = تباه.
٤- شته او نیش = شتمن او نیستمن، ٥- الوده = نښتی- اخته

لږ شته منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرګه دي

د فرعون د کور د ننه
په پاڅون آخر موسیٰ (ع) شي
د باطلو ښامارانو ټول
تار پتار یې له امسا شي

○

عقل لیت دی، د یوکي ده
پرې قدم قدم روښنېږي
کلیمه هغه شهلیت[1] دی
چې ټول ژوند پرې جوتېږي

○

د آدم د شاه ځامنو
توری هر کله ژوندی دی
د وختونو په آسمان یې
په ځلا ستوری سپوږمۍ دی

○

د زړو پېړو کارونه     نه مېړونه به بیا کړي
شاه مېړه کړي هغه چارې     چې پېړې پس یې دنیا کړي

---

۱- شهلیت، شه+لیت، لوی لیت،

چې په ځان پلن[1] سوری نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي

له کونړه چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي

هو دیالي نېزه باز کوره
چې په ماته نېزه جنګ کړي

له یوې بلې تېرې ته
د زړګي[2] زمري غوځنګ کړي

چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځنې خشنګ کړي

ننګ په حق باندې کوونکی
لکه ځان باندې چې ننګ کړي

رنګ له حقه ځني واخلي
بیا ورپاشي جهان رنګ کړي

○

کلیمان د ژوندون لاره — رپې د سترګو کې په ډک کړي
ځیرکان یې په لټون کې — تر عمرونو سرغونده کړي

---

۱- پلن سوری = په پساره پلن، ۲- زړګی = پرهار زړی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له ببل آ د مه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوند لویه کړمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړبنجړ[1] ژوندینکی
یو موندړی[2] زه یم اوده دی
د بدلون پدې ځاندړه[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیر[4] مخی رغانه وي
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مړي هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتارکې    هم یو زه یم « دي څوندي دی
که صورت دی یواړتیا ده    نودا زه یم « دی موندړي دی

---

۱- انجړبنجړ = الوول، ۲- موندړی = راکس، ناوی، ۳- ځاندړه = همتر- فویم سکلیت، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی ، بدلیدونکی.

○

پیرخواره[1] یې له پښو یوسي
چې موندې یې وي اومړې[2]
د کچبه "زه یم" آدم وي
خپلو نغوتو[3] نه باد وري

○

د آدم له "زه یم" پرته
نور هر څه چې دي نور پرې
له هر زبڼ پړی[4] د هجرې نه
لکه ځان هسې راز پېږي

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د "زه یم" په غبرګون دی
که وجود دی که سپتولنه
کار د "زه یم" یې پاڅون دی

○

چې د "زه یم" په شرنګ نه دی روزنګړی[5] د بدلون دی
د هجرو په کږ کوږ اوسي او د ستړکوتش الوون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړې = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.
٤- زبڼ پړی = هغه څه چې زیب ول کوي، ٥- روزنګړی = روزنه کوونکی - لویونکی.

ټول فطرت يې خوري تالېزه [1]

آدم نړۍ جدا جدا وړي

د ځانی سود غم خوړونکی

له حق لارې پښې پښا، وړي

چې په نورو خپله ویش کړي

خپلې برخې نه سیوا وړي

چې مشال نورو ته جګ کړي

خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ یې دواړه ښکلي

د څورلو چې دعا وړي

چې له خپل میړه آګاه وي

د بشر درنې په شا وړي

اوښتون [2] د ژوند جامه ده

چې شي لټ . په هغو واوړي

---

۱- تالېزه = په جمع - تاله .

۲- اوښتون = انقلاب .

دژوندون په لویه لارکې
مشالونه بلول دي
دتیرو په تورتیپونو
لښکرونه ځپول دي
کتابونه دې ردجیل
سوزول او بادول دي
دآدم نه دې یاد کړي
دعمرونو هېرول دي
که مذهب یې هم سړوینځي
چې باطل دی نیشکول[1] دي
که خوندي دي په کعبه کې
چې بُتان دی لړول دي
په هرپل دپرمختیا کې
برابرا[2] شوي غورځول دي
چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوځول دي

---

۱- نیشکول = ورکول- په نیش لګول.

۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

د سنډان تندي به چرې کروبخې نشي
د درنډو پلکونو جوړ که پرې نانا روي

د مېړه نیستي یو څو ورځې نیستي وي
نه مېړونه شاعري نیسمن او خوار وي

د رنډ و عقیدو خلقو کې همېش له
څښتنان د غرېدلو به په دار وي

چې بازونه یې په لاس کې چتّی[1] کېږي
ځان به وپوښتي چې د اغږنګ بازدار وي

چې توره[2] د حق ملا[3] نو خپلوي څوک
یو قدم یې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې ورله بویه
که رښا یې لار لیدلو له پکار وي

د رباب خوارو دې نشته آدم خانه!
ښایي خلق چې له میلسه[4] دې ویزار وي

---

۱- چتی = ورکوټي مرغۍ
۲- توره = قانون - لاره - منه
۳- حق ملا = دحق ملګري
٤- میلس = مجلس

ننګيالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسين کله پښه نيسي له غور ځنګه
چې تر څو د ظالمانو نوغې شته دی
حقملان راپسته نه شي څنګ له جنګه
پوهکړې د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کليمو[4] تر قلنګه
چې يې مټ د غليمانو وي کتلي
نه ويرېږي يې له تشه ډنګه ډ ننګه
د مردې توره ميدان کې لاسنه کېږي
خلاصه نه وې د کاټي[1] توره له زنګه
په چپل زړې کې زرغون شه او سمسور شه
څوړې نه ده لا کوټې[2] خاورينه رنګه
چې يې جس د تن په مورکو په پړ واوړي
خودمغه ته وي کړنجې د جهان تنګه

---

١- کاټي = تيکي - چړتون

٢- کوټې = د دانې کڅوړه

یو بری د یو جنګ غالی دی خوندي که
بیا په بل میدان برېښنا او تالندي که

چې د لوی څښتن د لاسو سره ښایي
شاځلمیا! ځان په داسې کاربندي که

په حجرو په جماتونو کې تورتم دی
د ډیوې غوندې لنبه دې په تندي که

د مېړه د ځوی آواز له خلقو بېل وي
څوک به یې څنګه په ټولنه کې ګوندي که

چې د خپل عمل لاره[1] سترې کړل
څوک به څنګ هغه وګړي راژوندي که

له غوجلې د څارو به څنګه وځي
چې په مینه مینه څټ ته غوږوندي که

چې یې ویښ د نړورنې له چا نه وي
هغې پاڅي بې وسان په ډاګ ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوښتې ته دغاړې

له خپل تنه پلواښه(۱) شه

د څپانده اباسین خپل

لکه غاړې په ساته شه

د کړیږ سختۍ په ځان کړه

پسته باز په الوته شه

په خپل ځان قید ونه کېږده

زرغونه شه او بیا شته شه

پولې ړاښکه، پانګی(۲) کېږده

بیا په زغاښت لکه مېږه شه

د خښتن د لارې مل شه

له خښتن ځنې لاړغه(۳) شه

په ړیبلوچې ورک نه شې

په لوښنه(٤) لکه واښه شه

د ختیځ له الا الله -

لا اله د پرېواته شه

---

۱- پلواښه = مروري - پلکواښه، ۲- پانګی = میږ- ډکځ- مړام

۳- لاړغه = لړغوني - وړاندې، ٤- لوښنه = خصلت - خوی

په ټولنو لیوګان ګډ دي
هر وګړی لوی اوکړ(1) دی

لولنګ څکه په نیش دي
درناوی چې په دوتر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي
څوک تاله، څوک تالانګی دی

چې درنه ډله(2) یې مله(3) ده
د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو
څوک یې موږ، څوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله
د خان بد ولره اشر دی

عقوبت به غرغنده شي
داچې نن ډګیا(4) سوسر(5) دی

---

۱- اوکړ = اولاد، ۲- ډله = ګوند، ۳- مله = ملګري، ٤- ډګیا = لوګی.
کوونکی، ٥- سوسر = د ډېرو سپیاکو او چې نري نري لوګی کوي.

چې زمانه ښکلې بدې مهتې
وابه نه خلې توري څټې

په ګڼو نو يې پسرلی شي
چې څوک ونغري سکروټې

خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستايي د نيکه ګټې

د يوه ماته، باتې سوي
د تور ګټ سوي ډيوټ يې

نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو څټ يې !

دا ميدان د تېرو تورو
ستا مصري توري دي سمتې

چونګ ايره يې پاتې شوې
وي انګار د درنې ستې

حق ننګيالو ته وريتيږي
د بې ننګ هر کله بيتې

لات منات چې ګذاري څوک
شي پخپله يخي ګټې

خرېږ، ځکه شوې، خيالي نه شوې
د «لا» شي ځنې شي نه شوې
د جنس ترغې نه نامينده
نَل نچه شوې کنې نه شوې
تشه شخوله - خالي تيکې
ببل توره، توبرې نه شوې
له حجرې تر سرې راغلي
لاپه «زه یم» سرې نه شوې
له مذهب چې ملستل دي
لدې مرېنې شړوندې نه شوې
انځاره کې چې دي پروت دي
هغه ستر آدم زې نه شوې
مبنګيرې درته آسمان دي
ځکه باز، باتورزې نه شوې

هرآدم چې دی فرعون کړ
يې بلواک ، ځانوکې نه شوې

---

۱- انځاره انځور- زړې - نقش
۲- ځانوکې - ځانواکی

دوکړو سالار پـروړدی
خرسواره چې شاهسواران کړي
دکوخولارو کـوډړي
ځلن ستوري دآسمان کړي
ګوکوشتان داومـوختېـو
سنډان سري اتلان کړي
لوړاوکوزسره یوسیال کړي
اروپیّچ واړه یوځـان کـړي
چې سړي پي نه سړي کـړل
راغوزار هغه بُتــان کړي
دلالونو په ځلقولــــو
دمشکنو بازار وران کـړي
چې جس من پکي قدر پرې
راد بر هغه دوران کـړي
داد نوم مسلمانان تـول
پرریښتیا مسلمانان کـړي

---

۱- اروپیچ = خپلوکي په ضد ضدی - په غوتړو پرتړو.

په میروکې د ډېر کلونه راټوکېږي
سرهٔ پیوینو دلاله یې جوړه ده

ننګیالي دي چې دلوی ښښتن په تاړي
پوره ټکري د نړۍ توله بار[1]ه ده

ته تنزري يې، دنیاده د بازونو
ډېرې ځکه ژوندون دی اډار[2]ه ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه ګوئي
زرغونه دي له ژوند کومه کلیمه ده

هوښايي[3] په تپوړوند دی، ښکار تر شي
که نه يې نن هم پرته هغه د وګړه ده

دګزی[4] غشي دي هر وخت په سر دی
په دیدوان[5] باندې دي اره پره، وره ده

صبا راښکه د شولان ګټو ته متې
که دې نن ګټلی قام لره اوګره ده

---

۱- باره = مسئولیت - ذمه واري - پره ، ۲- اډاره = وړانه - ګټې - لوټې ،
۳- هوښايي = ښکاري ، ٤- دګزی غشي = دوړې پرې ګوزار ،
۵- دیدوان = شیش - څیرکونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه خلق هسې ټولنه

لکه کوږ هسې يې غار

لکه اوبږ هسې يې سوری

لکه پسنه هسې پيزار

لکه باز هسې يې ماری

هسې باز لکه ميشکار

لکه ږيره لاوڼ هسې

لکه سر هسې دستار

لکه توره هومره کټه

رشه هومره څومره کار

د اوچت الوتو پانکې

د شهپرو په مقدار

د ږيوې ړنا تر کوره

نمر په ټول جهان اوځار

د بې ننګه په رنګ د ږيږ وي

ننګيالي نه لري سار

چې د لارې اوښکو نه وي

په هغو جوږ بې لار

لاپې ډېرو کړي ځاندي

یو منصور خېژي په دار

د بې مټو وار ځنډېږي

د مټ دارو وي بې وار

د زمرو نه اخستلی

سوړ[1] لنډی شي کله ښکار

د اتیانوس باړی وي

په ملغانو کړمار[2]

کلیمان نه شو ټول عمر

له خدايي چارو وزګار

مذهبونه دي پوچ شوي غربینونه[3]

مذهبیان د خپلي ماتي بېرغونه

د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده

چې مذهب يې رواسته[5] کړېدي هډونه

په هغه سالو چې ځان لره دوړېږي

دي عبث د انځورونو کړاوونه .

---

۱- سوړلنډی = کیدړ، ۲- کړمار = یو غر دی، ۳- غربین = یو ټوپک ،

٤- راتاندون = بیا راغبرګیدل ، ٥- رواسته = وراسته .

له مذهب يې چې تودې وينې كنګل شوې
مسلمان بايلل ملكونه سنګرونه

له مذهب څنې لوى شرك په جهان نشته
لګولي يې په نيش دي استونه

د مذهب دغونډلانو[1] تنستو كې
ګل ډيوكي[2] دي دعلم د پوهتونه

له مذهبه هګ ځلمی ټول ريزکي شي
ريزكونه كله كيږي لوى كارونه

ټكى ټكى دكتاب نن هم هغه دى
خو مذهب ترې نه وښكلى دى ساهونه

چې ترڅو دغه مذهب او دا مُلا دى
وي تالابه د تالا قاموسونو خونه

پوخ سنګر دى شاه مردى ده
توربازي دى تيغ بندي ده
له باطل د ځان ژغورنې
يوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غونډول = غټ غمنی

۲- ګل ډيوكى = دګل ډيوي

له فطرته دي پرده ده
له فطرت دي سرزوري ده
کلیمه دي سرتوب دی
سرتوب دي سرهسکي ده
د بل غم هم د ځان غم دی
دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کلیمه بیا خلق ژوندي که
دا اله وار و ورستو شوي بیا لومړي که
دا چې خاوري یې له مخه نه چاڼېږي
د سپوږمۍ په دود څونړیې پرتندي که
ورونه وروڼه سره غوښې په چاړه کړي
له ټولیز ژوندونه ورکه ګوند ګوندي که
شاه میرونه له زرګونو ستورو تیر شول
بیې راښکه خپل ملګري ګړندي که
د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی
چې ګزران د بل په سوي کړپندي که
د پسرلي درنه ورځه شه په خوی کې
ځان ورښت، کله برېښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
دستر کوره وکاګیره تلل نه ده
د ایلتیانو(1) کلي وړانول نه ده
د راسمنانو یې سمول نه ده
که اونډي(2) جونډي د دوپړک(3) وي
د یکرنګانو غوځي کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب یې ځای ته برخېژول زده
چونګورکان هم کړاولي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان یې موزي(4) کړان کړي
نو کلیمان یې تورنول زده
د آذرانو بتکورکي(5) ټپول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وړانې پیدا کوونکی، ۲- اونډی جونډی = مزغړونکی چې غوځې ړنې نه وي، ۳- دوپړک = دوړنګ - منافق، ٤- موزیکي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پړې ډک وي، ٥- بتکورکی = بتخانه.

د باتور په څوشهپرو خپلولو
مښکيرک او غليواز نه باتورېږي

ديو بُت په لړېدلو بُت غليمو!
سومناتونه په کعبوکې نه بدلېږي

له کيکره د نښتر پيوند خوړوکې
نښتر هيڅکله نښتر نه پاتې کيږي

چې په پړو کو دي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندېږي

چې د زهرو ډک لښتي پرې راسوا وي
دغه سوي چنارونه نه تاندېږي

د قرآن واړه رڼلی عقيدې نن
د مذهب په کتابونوکې ساهېږي

د تيروسره ملستي بنا پيرځ نن
د رڼا په تکی مرګ ته ببرېږي

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل «زه یم» سرهنګي يې سلامت یه
مریتوب نه - ملګري د یزدان غواړي

ننګیالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشونی نه دی
یومخیزي[1] ځیګروره ځوانان غواړي

کشالې غوښتنې نورې د آدم دي
ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیښتینکو ګټې نه شي
د ژوند ستونځې مېړني قهرمان غواړي

په یو ماره که ګاوز شي، سود يې نه شي
چې ژوندي وي نوی ماری زمریان غواړي

---

۱- یومخیزي = چې مخ يې یوه وي - د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي

ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلیز[1]
کراولې کړي، یرغلونه کوي

لوګین[2]، اوریزه[3] که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهېزونه کوي

رهبر، کړاو دی ټول دعقل چې نن
بریښ دژوندی تومن ځغلونه کوي

د آدم کار دی کائنات پرېږدول
برهغه قام، چې دا کارونه کوي

چې په فطرت یې ده لتی اړولې
د هسکو ستړکو معاشونه کوي

عقل بهیر کړ غورځنګ دشعور
ویر ویراني ټول مذهبونه کوي

پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
دبل موټاڼه دي سوالونه کوي

---

۱- ستورتلیز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګینز = دګانوریځ یا نیبولا،
۳- اوریزه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په ځنګی ، فطرت په ترڅی
تشې ځاندي وي، زور يې اوبه وي
عقل يې شل وي ، هڅې يې کټه
په غټو کوري ، ولې ړانده
نه پرې ودانه ، که دوی ژوندي وي
او نه پرې وړانه که چرې نه وي
د ځوانمردانو دقط نه وځي
نه يې خواږه وي ، نه يې تراخه وي
په نن په "زه يم" د وارو نيستمن شي
ځوراک ېخساک يې خواږه او ښنه وي
په زاړه شخوند کړي ، نوی ترې نه شي
نوی بريد و نه خود مېړه وي
چې يې ړاغوند کړي وار کړلي
ديو ګنجکی دا ز ښت نه وي

د لسوګینو دلیمون نه
اوږين ستوري راغونځېږي

ستور تلیزې سروهي لا
کائنات لا پراخېږي

که یو ستوری ورژېږي
نوی سل راوټوکېږي

د ښوندون زرغونېدو له
نوې ځمکې سادېنېږي

چرته ښوند دی په بخښنچه
چرته کچ، چرته ځوانېږي

د زرها ستورو میرو کې
د ښوندون غږې غږېږي

یوه ستا د ځمکه نه ده
چې ساه دار پکې هستېږي

شنخړې ځمکې ښکته بورته
ستور تلینو کې ثرخېږي

هغه ځمکه ستا دوتر دی
چې دې لاس وررسېږي

عقوبت به له دې ځمکې
درته کېږي په سر کېږي

د مېږونو ستوري بېږېدي
له سپوږمۍ ستوري تاوېږي
دېوونو کور لټون کې
د آسمان لاري چاڼېږي

عقوبت دا ځمکني به
ستورګ زو ته ورسېږي
د ښوندون ځومره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي(۱) پاینده هغه اوښتون شي
لاولا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مرې یې ګرځي په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستور بېښون شي

د اولس وینې رهېښونکي هله ورک شي
دربریا(۲) اولس چې کله په پاخون شي

د اویارلې څلي هسې ولاړ نه دي
د مړدي کارونه ډېر په شواخون شي

چې په سین د اور او وینو شي وریږي
قافله یو قدم مخکې د شړوندون شي

که هر څو مره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبې هر قارون شي

چنیشني(۳) عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو تو له مریستون(٤) شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربریا = خطر- نتلی- ځپلی،

۳- چنیشني = چې چناسکې پکې شوی وي، ٤- مریستون = هدیره .

د دوران په زلزلو غرونه رارغړي
په شکلني ډېروکي څه له ویاړېږي
تلناوونه یې رواسته، موږ یې خوړلي
چاڼ کېږدې کې به تر څو پورې اوسېږي
د پړنسنبتر په چورلندو ځمکې له تللي
کچه ډیلې! په خپل خېزڅه غلطېږي
د سورسین چپې دمه وښکه له یادو
ای فرعونه! چې کلیمؑ پسې پاڅېږي
د ملخ ځانګ سړدې ملاشوله دوه غبرګې
ته لا ځې د آتې بارته لاندې کېږي
لااله بتکو رکوته سنکرپوکل دی
که مؤمن یې تروړستي بت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي

کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر ورته د ګدو خپور لښکر شي

کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مس ځوانان چې تري نه وځي نو سره زر شي

ننګیالي په جهان پټي را تلي نه شي
دوی د هرې سرښېرۍ[2] وتلي سر شي

د هر کور انغري تود، تیاره شي ورکه
میړني ځلمي په هر لوري چې ور شي

له تونګه[3] د عیسی چې نمړۍ وخوري
که د ختو کوکوشتان وي په وزر شي

د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو ځلی هم د بدر لښکر شي

---

۱- لړ = کوز

۲- سرښېرۍ = د جنګ غالي سرپه

۳- تونګ = شکور

دغلیم د برید او چیغي[1] حاجت نشته

لاس تر کریوو چي پخپله سنګروال شي

دکور، قام بدخوړمنځي[2] په ځان ناتاردي

په تیغه که با تورن وي تش پیخال[3] شي

تا نګ دکټي، د یرغل یې د لاس وځي

چې دچار اتلونکي توري نه اتال[4] شي

ځلمي وار په خپل اصل دي لالونه

دروزلو چې څوک نه وي کوتي لال شي

ځماتونه، مدرسې او چینې د پرشول

خوله چا هغه بانګونه د بلال رض شي

چې دخاورو له کالبوته

او ده «زه یم» برسېرن شي

په اجل یا ندې بجل را شي

بنیادم و لاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = ایه ، ۲- بدخوړمنځي = بې اتفاقي - اروپېچ ، ۳- پیخال = د باتور غل - غرباز ، ٤- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار .

O

د ژوندون دغورځنګو نولوی میدان دی
چاته پولهٔ نه سپوږمی او نه آسمان دی
د فطرت غیږه پرانستې ده هر چاته
بود د هر چا هم په قدر د خپل توان دی
دا په تاده جوړوې کاڼي که توره
خپو ر چاپېره د جنګړو واړه سامان دی
نیمګړتیا کړمې تولې اړ په مټ دي
مټ کول د بنیادمو پوره په ځان دی
چې یې زده د سورکو وینو ګنبدي دي
د هوهنې ډاګه کمې پدې جهان دی
د باتورلمڅی دنیا ده بېله بېله
یو د ځوړې، بل د لوړې وږی ثاڼ[1] دی
چې سرمزی د نوبنت[2] یې په لاس درکړ
دلوی برید په ننداره دی او س یزدان دی

---

۱- وږی ثاڼ - وږی انوونکی، ۲- نوبنت - پیلات - ابتکار

چې د "زړه" تول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غونډې چې چړې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل بخونه یې چې یو مخ شي
"زړه" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زړه" په تنه کې
لکه بُت سلګون سړې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړی راخېژي په سوسر کي
د هوډی هڅي و باسي لاري غر کي

توربر سینونه يي پخپله غماز کړشي
میړه کله پټیدی شي په لښکر کي

"ستوروڼا"(۱) کرښی د ځمکي کړله ماته
ښخوي بیرغ د ستوروخپل دوتر کي

مرجوڼا د نهنګانو له کاله نه
ملغلري راپنه کړیدی څادر کي

زمري خوږه په یوماری ورپېوځي
بله ماره يي نیولی وي نظر کي

مړدکي، دارو، بټک او اوربشینه
دغه توکي د میړونو وي سنګر کي

هره ونه خپله میوه نیسي
چامونډلی دی کروسکی په کیکر کي

---

۱- ستوروڼا = (په وزن د مرجوڼا) د ستورو ښکاري

زردار هغه کوډګان دي
چې ګړندي بنیاد مان خوري

سړیخور په پټه یې نه خوري
سنه برسیر یې په میدان خوري

د بې پرسه کلو خلک
څه ملا، څه دوتریان خوري

یو ورې یې په شا پروت وي
بل شې لښتي بار کسیران خوري

د باطلو راجواړه ده –
په برمته یې بې کسان خوري

روایات را پاخښه دلي
په حملو حملو قرآن خوري

د آدم په بدې ور ځي
کلیمان وار خپل ځان خوري

چې په منډه د هوډ يالوځي
لاړ بې خود کړې کړپې وي

چې په څرخ باندې سورې شي
د هغو توررو لاشې وي

چې له اور ځني ونه ځي
نو هغه پېژې اومې وي

له چېو چې انګوڅه شي
پولادي هغه سينې وي

چې جنګړېزې ژوندانه وي
د بوم دکې بې شملې وي

چې د مټ مجال يې نه وي
د هغو ناندرې ګېلې وي

د باتورو هسې ګوره
څه که يو موټې بېنې وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ژړيانې بې تاو نه شي
نو هغه لېندۍ پرې کې وي

چې وهي د تنکسي تـــوري

په هغو کله تنکسي وي

سپوږمۍ، ستوري، ستورتيلين

د ميړونو بر آمــــــتې وي

د سر ټيټنکو غورځنګــونه

د تاريخ زرزرينـــي وي

د اخلاص د شاهسوارانــو

منزل لوی، لــرې توښې وي

چې منګل يې د زمرو وي

د هغوماري ســــکې وي

په راسمنو باندې غـــرونه

د مالوچو پاغونـدي ـــوي

پرناورې ســنکرباـــلي

ويښې سترګې پـلـيتې وي

دوزنګ تنبــتي ګـن پرځانه

چې د بدرتېســـي وي

د ميړونو لوی لاســــونه

خپله توري او بــلـې وي

د ګيدړو په نصيب کــې

د زمــرو پـا تې د رنـګې وي

Reserved -1-

چې یې پښې وي غزولې

د هغو دا کې سپېرې وي

چې له ژوندنه ماتې وخوري

زور یې تول په موسلې وي

د مړشوا کو مسئلو کې

هم د مړو مړینې کیسې وي

کوښې هم ځان سره کو نکړي

چې یې خپلې پښې کړې وي

دیوړوغ دسیالۍ نه وي

د ړندو که پړکنې وي

○

قام دلې دلي تورو توربرېښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی
هر دلیت خپلې دلې ته سنه والي
دغه دستور د دله بازۍ دی
پلویان راوړي ، ناحق په حق کړي
"قامي[2] جرګه" کې سوال د لیږه دی
چې "جرګه غړي[3]" ، ټول شته منان وي
واړه همواد دی وندې وندې دی
کاواکه دروغې واکمنې دلې
څوک یې د مخې د کاواکۍ دی
د "سلاغونده[4]" سیځلي لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکي = دیموکراسي .

۲- قامي جرګه = پارلمان.

۳- جرګه غړي = ممبران.

٤- سلاغونده = د شورئ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر يې ننګ دی
واړه شروند يې د کتاب په رنګ کې رنګ دی

چيلي ناوسنکي په سمڅو، په لغمونو
ببل توره د باطل سره په جنګ دی

د جهان په "دنګ قامتو" سراوښکلی
سالارۍ يې په نړۍ پورې قلنګ دی

هم د علم په دنيا يې بيرغ جګ دی
هم چاپېره يې د سينه سرپيتوب د ننګ دی

هم يې کته، هم يې مخ ملا زی ورکړه
خپل پردی يې په نماڅنه باندی زنګ دی

د زيارت خوړه و ته ناسته بې کتابه!
ستا کور لاری ولايت د پلې لنګ دی

منکران په دليلونو منکران دی
او ملا د بې دليل مذهب امام دی

روښانه خياله نه کافر دی، نه مؤمن
د تسپو سر ګرځوان يې له ناکام دی

هغه ځرنګ به د بل کاسه کړي ده که
چې يې خم پخپله وچ اونسکور جام دی
پوهګړي تورې تر هغه يي، ځي په ده ده
چې ملا ورښکاره کړي کوم اسلام دی
ليشتکی له ليشتکی مفکوري زيږي
ځان وګوره په جهان دي ځوم ټرسام دی
مذهبونه په کړي د نيمسانو
د ښته منو دخونديّ[1] کتو سمام[2] دی

خدای ځروندی مال يې ميرات دی
ځه بې کچه نا روا دي
دي دهولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي
داد لاد دوران سر دی
دوتريان چې په کړ بـا دي
د هغو لپچي تاويږي
له پيرونه چې په غلا دي
له زما، له زمانې نه
پساتونه په دنيا دي

---
۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بند بنا

چې لېـــږين تېرې لاس نيو کړي
شاه مېـــړونه د الله دي
امانت د اوليا دي
چې له تا ځنې ســـوا دي

چې د حق او د باطل د غره راشي
د بې لارې پلار نيکه په لاره مه شي
چې تورۀ[1] يې د بتانو لـــړول وي
خداى دې وکوماري ته هغه مېړه شي
چې يې غل غدو له وېرې بلوسه کړي
په مورچلو د قام وېښ هغه ليمه شي
چې مړه واکې ولسونه پرې زغېږي
که يې سل ځله توکي، هغه تارخه شي
څه زړغی زړغی کوې چاقهرمان ته
که ملا وتړې، هغه توريال به ته شي
غرونه غرونه واوري هله به شي ويلي
چې د نمرېشان پرې سورپه اېشېدشي
چې يوه پلارګنې ومانځې اولس ټول
ته به هم د اولسياسرۀ په ولـه[2] شـي

۱- توره = دستور، قانون ، ۲- په ولـه = په دوړی - پرښمورځ

چې راشېبل دې په راشه د آسمان ښخ کړه
بیا به هله د سړي په نوم بـاله شي

○

چې د کړاو تنـدي خولې خولې شـول
دقام جـوشې بیا پلوشـینې شــولې

د سـر ښـندنې کرامت وکـــوره
د ازغو غـېږې ګلـــورېنې شــولې

د پلار خـېرې ده دې کائنات دې واره
کاش چې دې توري بیا پلرینې شـولې

با توروزي خپله به راوزيـږوي
که د ېروکې دې مابښینې[1] شــولې

غړاو راغه یې شېخ مــلې ونیول
چې د زمري سترګې تندرینې شولې

د تورانۍ لېونۍ کریکې ســره
څانګې غړانګې سندرېنې شولې

چې بیا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرینې شولې

---

۱- مابڼې = یوغر

کلیمي لره ښوندي زړونه پکار دي
او وله لوټي په پنډه کله پیدا کیږي

په خوږ ژلن کي له بحر کوتو غوړیدونکو
تر آسمان ښه پکوونکي او رتاند پرزي

چې پښتو د تپې وچ ځیلي سروستې شي
په کږوږو شپېونه راتو کیږي

د مذهب په ګڼ خوږلو لختو لهړو
د سر سوري د قاموبونه جوړیږي

هیڅ ځلمي بوبه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولیشتکو نه پورته کیږي

○

مرده یوکي مذهبونه
لاړي نه شي رهنمولي
د بوزړ انقلابونه
آذر نه شي راوستلي

○

د ښوندون او بزدي کیسو له کائناتو به چانول وي
له موجود ځنې پښنا به ترلوګیزي پورې تلل وي

○

○

چې په هغو شړغونګ کړي

چې پرې کسرې وي وختونو

ګویا ځان له تو زیز[1] کړي

د کورونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې

نه نیم سول شته، نه سړ شته

د خلیل همت دي تود او سه

د آذر چې بت کړه شته

○

د هند و عقیدو سنار کې

انقلاب را برسیرن شي

د زړو خدایانو مخ چې

ولسات ته کرغېړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبی

بتکورونه رانسکور شـــي

چې د زړونو په وړشو کې

حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(۱) توزیز = بندوبس

○

خليلان چې له تــولــنې
د خدايانو وهـکول کــړي
نولومړي د دې خدايانو
خدايي وړپوچ کول کــړي

○

کليمان د فــرعــونـانو
پاچايي هله غــوزار کــړي
چې بې لاره ولسات ټول
د دليل په زور په لار کړي

○

دکليم د درنې پــرکــې[1]
خلقي وې وار زبــرکي
هم يې کټه، هم بخښــنه
هم يې مټ وي، هم يې ستر کې

○

چې د وخت اړي کــړي کې
ځای تېنګ لکه د غــر و
دخپل پوخ «زه يم» په مرسته
د همه پرکنوســر و

○

ا- پرکي= پرکنې.

اوسې تش د عقل اندېښنو سره
ځې په تياره لار او ورکو سره

عقل که سقراط دی، بريالی نه شو
ګريوې په لاس د پرشو کشالو سره

ستونځو د ژوندون له برمه پرې يستل
دل يې چې سپوږمۍ ستورې کړل پښو سره

لا تر اوسه لرې له خپل ډګه يې
لاړې کله مارکس، کله روسو سره

کله په يوې کله په بل ځې
دروې دې نيلي د برېوکو سره

وينې اوښکې وچې شې لنبې کښېنې
عقل چې بلد شي الله هو سره

راشه د کعبې درشله ونيسه
مل شه ای ځيرکه کليم زو سره

آدم زی له مریٔیتوب ځنې آزاد کا
د "ماکانَ لِبَشَر"(۱) سبق ور یاد کا

چې د بل د خولو وږم تې راخېژي
د هغو ماڼو کړکیچو خوړ بنیاد کا

د آذر د بُت خانې لړولو ورستو
شړې وړا وړځه کور د خدای آباد کا

چې صبا په غړ قبدوشي کلیمه وایي
د دوران فرعونانو دې خدای رایاد کا

په لوخړو کلی پټ، په وینو ډوب دی
د کوچنی فکر سالار دې څه فساد کا

د مري په ځای څښتن چې زورتر نیسي
د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

لکه کوېوانه د فطرت یې چې لاس وښکه
هغه قام به زر په غاړه کِند کچکول کا

لا اِلاّ چې یې توره شي د ټولنې
هغې ډب به یرغلونه د منګول کا

---

(۱) (ما کانَ لبشرٍ ان یؤتیه الله الکتاب ... ثم یقول للناس کونوا عباداً لی ...)

حق باطل ته ړې تور برېښ دی تل راغلی
حق به نه وي چې باطل سره نیم سول کا

د پر قامونو نه دي غونډي او بوړې
په سین غاړه له بارګیر خوشي پرزول کا

رسیدلی په خپل "زه یم" شاه میړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کنډول کا

داکاني یوازې تېرو خلقو نه کړې
خلق اوس هم په ژوندون لونه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سره یخواره دي
په یو دو فصلو بلوسې خپل ته شپول کا

چې ځانکړي سود پسې پې شي وکړي
په ټولنه کې سورا او په غرغنډه وشي

د شته منو شته مني چې خمار وکړي
انقلاب د نیسمنا په راتلو شي

چې بې وس دي دوسدارود سیالي شي
دزرداره تپې دا کله پیرزه وشي

دوتریان دلولنکو غمونه نه خوري
له لیوه کله زره سوی د شپنکو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زر داري د پردو وينو لوى اغيږدى
اغيږلي عقوبت په چاودېدو شــــي
الا مي داو بنستون د قلِ العَفـْـو ؟
دوترونه چي ورو-ورو په کمېدو شــي
هغه کار چي کليمانو ته اتــال دى
هغه کله له مارکس اوله روسو شي

○

له دستور د باتورانو چي بې پک دي
خود په جاله کې پيدا يې مسنکيرک دي
چي يې ژروند د خدائ لارې په لاروي
هغى سيال دى، هم برخېن هم په خپل وک دي
د ميړونو لار د اکي آسماني لاره
منزغړو ته لارې تل د دوپړک دي
له ساده ايمانه ځار يې فلسفي شه
ځبستنان چي دلروکى د بتک دي
شپنکى کوره غرضونو شه نخان کړل
په برمته ارم په غوسود کنډک دي
د ننګيال واړه کارونه هــلي ځـلي
د نيسمنو، بې اسره و په کومک دي

تورخنکلي[1] پرې برې راولی نه شي
چې د بدر، د حنين توري ترملا دي

الاجي غوندې دانه راوړې يوځای له
شاه ځلمی له شاه ځلموکه شاپه شا دي

ننګيالي د سرزړو کې د تور سرو
ننګيالي جګې شملې د اولیا دي

فرعونان يې چې په مکر کوټ بنګار کړي
زرکول يې بيا کاروونه د موسیٰ دي

يو کتاب و چې امت يې پرې ټول راټول وو
يو کتاب دی، او لړوه[2] دوه اويا دي

هر ډليت[3] د خپلې ډلې د وزړه[4] وايي
او اَمي خلق حريان، چېرته رښتيا دي!

---

۱- تورخنکلی = چې توره خنکل لري د باطل ځواکونه.

۲- لړوه = ګوندونه - ډلې.

۳- ډليت = د ډلې غړی.

۴- ډوزړه = ثنا - صفت.

د زاړې(۱) تنګسې کړنې کې
ژوندانه کله ځائيږي

ژوند غځېږي، او چتېږي
زاړه خوري او سمسورېږي

د زاړې وجود د خير دی
چې پرې "زه يم" شيرازېږي

د وجود دنيا تاغير خوري
"زه يم" کله تاغيرېږي

د خښتن په ليکه "زه يم"
خپل قامت وته رسيږي

د زاړې ځاندره شي رنګه
"زه يم" هر کله پائيږي

دِ له د خدای ماتې خوړلې نه شي
څوک يې ترلې پرانستلې نه شي

توره به ستا د موزيکې توره وي
د مېړه توره پخېدلې نه شي

۱. زاړه = (لکه وا او زاړه) ماده - چې زيږول کوي - Matter

د ګیدړ برخې دی هرچا وخوړي
د زمري برخې څوک خوړلی نه شي
که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي
چې یې بیرغ د الا هو رپېږي
څوک په سنګریې ورختلی نه شي
زمانه هرڅو مره که مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي
د غیرقامونو د کټ پښې ته ناسته
تا عزت داره څوک ګڼلی نه شي

---

د خیګونو[1] خاوندان چې اړ و هیچ شي
رسوي به څوک جاله وایه څکو درته
ځاني سود چې مدعا شي د وګړو
بیا څوک اړوي بلرونه پردي ورته
په زنارکې تسپې و پیلې خلقو
یو مخېزې مسلمان چې لاړ شي چرته!
د خلیل نوم د ثواب د پاره اخلي
ژوندانه دې ټول ناري و هي آذر ته

---

۱. خیګ = شناز

خدای دي توان د متونه يات دشا ځلموکړي
چي په نړه ورکېږي تي دي لوی غـر ته
دکليم د پرې خلق هم هغه دی
نيمګړتياوې چي دخدای سوې سر ته

بيا پېژار د محمد (ص) په وينوجب دی
د طائف خلقو دی تيرې بيا وروبلي
دا جنډې دکليمي چي چرته رپي
دا دبدر له ميدان راغلي ستـو لي
دکعبې په توره کتـه لوظ کوونکو
د سرونو په باز وغاړې خلاصولي
صدقه د وينو سرود پښيالو ده
چي نن قام دخپلواکی خبرې کولي
د سمسور فصل رشه پيمانه کيږي
د تش تورکی پيانې کله چاکولي
سمندرې خيری غوخ کا خپلې غيږکې
که اوبه دالګو ورځـې ختـو لي [1]
ساقي خُم ته دشا کاسه سره ناست دی
خوکه ستړکې ليونو بيا وغړولي

---

۱ـ ختولي، چي دختو لهو پکي وي.

پخه مه شه د توریال د مېړدی توره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه
د ښروندی مفکورې(1) خپله د ومره څواک(2) وي
بې لښکرو کړي را لاندې هېوادونه
انقلاب د کلیمې زاغلی نه دی
چې راځي بوربور کې انقلابونه
یو بیرغ د محمد(ص) به تل رپاند وي
نور دخیلمی(3) دي بادوړې بیرغونه
هم یو رنګ د کلیمانو پوخ تسلن دی
راژېړي نوراومه او پړه رنګونه
سرچینه یې چې شي وچه، ډنډاوې شي
په غوړبا روان اکاو(4) اکاو سیندونه
د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې
بې له شناختې(5) دي پراته ډېر اولسونه

---

١- مفکوره = نظریه - فلسفه، ٢- څواک = زور - قدرت،
٣- دخیلمی = ټول - سراسر، ٤- اکاو = بودم - ډک،
٥- شناختی = خازې

د هغو قامونو بنه[1] د بنهي شي
چې لیندي یې د ظلمو شهوتو پرکې شي
چې یې کړې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلواکۍ کوږې جنډې شي
راسمنې د مشرانو چې یې نه وي
بې درنې پکړې پلرینې یې بشنې[2] شي
لاشه نوري بنیادم تشې کاتې شي
چې په برخه یې ژونده عقیدې شي
د شادو غوندې پیښې کړې د قامونو
چې یې جس د نو بنتون بسمې شي
چې په چم دی له خاورینې دیوې کړه
له دیوې نه عقوبت بلې د یوې شي

کچ شوملې[3] سره بیل بیل کړي
زمانه د شروند شاربل کړي
د میږو لاره یوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

۱- بنه = رنګ ، ۲- بشنې بشنې = ریښې ریښې ، ۳- شوملې = تروې - شلومبې .

چې په لار د شهزاده[1] شي
هغه دوه ژبې ساتل کړي

په فرعون کاندي نسکوره
چې دستور د کليم خپل کړي

دره يونيم په نيزه وړي
که آسونه د پر تېختل کړي

د ښې ورځې په تکل کې
خلق توري هم کالل کړي

د کالا کوتر وته ګوره
چې په نمر پسې غپل کړي

د باتورانو نوغې[2] دې خوړ کړ
درته دې پاتې تش پيخالونه

دلبه[3] مرداره ښخند وې لاس کې
تش تېروسان پرې کوي سود[4] ونه

د چتو ښکارېي د وګرزې نه کړي
هو ښايي ګرځې نيسي بازونه

---

۱- شهزاده = ...کياولي د کتاب نوم، ۲- نوغی = اصل - نوغی خوړول - بېخ وړکول، ۳- دلبه = غوښنه - طمع، ٤- سود = مینه

چې پرې اړې وي د باتورانو

نه ښکاري هغه د ننګ نښترونه

له خدای اګاه شول او نه له ځانه

طالبان وايي کوم کتابونه؟

غرابین زنګ شه، او توري پټې

پاتې ملا دی، یا یې بانګونه

○

وګړي ګوره په غوړزو وپرزو

نمرې له یوبل ړاشوکول کړي

کارونه واړه دلاس سبري دي

څوک شي سکوندلی او څوک سکوندل کړي

دشته منانو دینګان راپنډ دي

دښمنانو وندې ویشل کړي

یوپنجور هم خپل نوغی نه خوري

آدم لګیا دی آدم خوړل کړي

څوک په خمڅو[1] پسې ړانده شول

څوک په اوږمکو[2] شونډو[3] وهل کړي

---

۱- خمڅي = د نرو جوار و دوډۍ - خوار خواړه، ۲- اوږمک = غوړه زیړه خوراکه - شاهي خواړه، ۳- شونډو وهل = لکه ښاروي چې په ګیاه کې تښه خوله ووهي، ولې خوري یې نه.

د قبر ځای د لوحې نښته

ځمکه وال ځمکې ته انتقال کړي
دوره یې غوښتو د دوزې ښېځې
خالق آخر به منځ ته کې بدل کړي

○

د ځمکې مخ چې په بلوا رئ
دا انقلاب دی، هم دا پکار دی
چې سپوراوپلي سره يوسيال کړي
هغه رښتينې کاروان سالار دی
وار ته دې شرله زرغې زرغې کړې
نن را اوچت شه هم نن دې وار دی
ميړه د عقل، غوښې د ښکار خوري
د عقله پلې پخپله ښکار دی
هر سړی ځان ته تر خزه تو بزي
يو څو ماړه دي، نور ولس خوار دی
کلیمه وايي په شرنګ يې نه دی
يو سراوبل سر عالم بې لار دی
د ننه په تن کې زړې زرغون کا
بهر بيا کوره څه رنګ بهار دی

ژوندانه کله بیلتون کله کیږونه دی
کله مل شه د تیولیې کله بېل
که دې زور د نړهاني بدلولو نه وي
د دوران کوږی خوره اوشه بدل
درناوي اوسپکاوی په جسوا رړی
ستاپه لاس ده که کښي اوسې که نسل
نشه توره کوری لارد کتنې نه ده
توریالیه! چې ژونه شولی حق مسل
ساد، هغه چې په خولويې دتندي خوري
تیار خوږ کړی د همه ولسیا غسل
دیکرنکو گونکل پاک وي تل له ویرې
درغلان او دورنگان وي په زلسزل
ته ویله وې چې کوچی ماهیوان بارکړي
اوس وهي به یي دایلبند شمال او ربل

حقتولنې ځنې پرته هر نظام کې
بنیادم له خپله ځایه راغورزېږي

د ککوړي د سرې ټوکرې د پاره

آدم زوی بل آدم وته ټیټیږي
یوشته من دی چې ټولنه کې ټولواک دی
نیستمنان خوپه جغ شوي تل اوسیږي
د ناچارو کټه باندې کښتوي باندې
د چارمنو کښتوي به بې کتې پخیږي
د بې وسو دخولو په ترموخاشکو
دوسدارو ماهي رنګ، خمې دکیږي
درناوې چې په موړې[1] یا په دوترو ي
لولنګو به په کنجیکله خود ارزیږي

بې اسرې آسمان ته غړندې غړندې اړې
په ظالم چې به لاکله نسکوریږي
په زوخړه به یې غورونه شي ټول ویلی
په لړمون دځمکې داسې اورختیږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بې ټولنې بنیادم څه دی؟ نه شي دی
ټولنیزه ژوند سمسور د سرې جس کا
د ټولنې مدعا واره سرې دی

---

۱- موړې = پانګه ،

په تولنه ریزکی لوی قهرمان شي

بې تولنې قهرمان هم لیشتکی دی

چې تولنه دې آدام په کلیمه وي

هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د تولنې سره مل ، د ځان څارن شه

چې ستا «زه یم» د ښوندون ځانګړی شی دی

چې تولنه یې باره[1] دارتیا[2] ناخلي

هر بنجه خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه وار نړۍ یوه کورنه کړي

د یوې کورنۍ خوتل یوانغری دی

---

د ازغوله ویخه سترګې را توکیږي

د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به ځوي یږي

سرې لنبې د خلیلانو خوراکه وي

سامري د زړونو پټ غلونه را نیسي

د مزنو پیټ پرک هم په تیچه وي

شرق ناتاریې د وختونو نیمه خوا کړي

انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پیټی، ۲- ارتیا = ضرورت - نیګړتیا - کړمه.

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي

ولسونه خو ځخور دي ارکجه وي

د شنډي تخم کرونکي عقوبت وي برخه شنډه
خېږي يې څه کړي چې نه مومي ځوک يې وږې له د رست ونډه

چې د ځمال اوښوندانه دواړه زکات شي

سړلوري به دي هله په ولسات شي

چې نېستي د نېسمنانو نه غوځېږي

اور دي پورې په داسې خير خيرات شي

ولسونه په مېړونو ښوندي اوسي

چې مېړونه په نيش لګي، خود ميرات شي

شريعت چې په اندول[1] دخپل وخت نه وي

عقيدې واړه ذکنې لات منات شي

د ښوندون پانې په خپلي سکې[2] کېږي

هغه ورک دی، چې پيرې يې په ميرات[3] شي

چې يې منده نه له دين نه له ساديته

د ښوندون خوانږه په داسې ولس قات شي

---

۱- اندول = توله، ۲- سکه = سرمايه - راس المال، ۳- ميرات = Grace - لږه وربخښنه.

د هغې او ښې ملامـا ته عقوبت شي

چې يې بار له خپله توانه ځنې زيات شي

هر غور ځنګ[1] ته دو رنګان ورشو ځي

ځان دي پوهه په دي تکي هرسالار کړي

تا بيا کرانه د بهر د غليم نه ده

کور غليمې په اتبار اتبار کونه ار کړي

د دو رنګو[2] وي نظر په خپلو کټـــو

کله غاړه کې تسپي کله زنار کړي

چې د ننګ خبره راشي کور غاړي شي

تش ميدان کې به د دوی وتو د بازار کړي

تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري

شا په شا دي له دښمن سره روزګار کړي

دوه مخيزه شروند په نه شروندو ليکه[3] دی

يو مخيزه شاه ځلي يو مخيز کار کړي

---

۱- غور ځنګ ـ تحريک ـ خوځند

۲- دو رنګ ـ دو پرک ـ دوه ژبي ـ منافق

۳- ليکه ـ حساب

هم خپل جسم دی سپېڅلی خاورې ایرې کړی
د دوړنګ عمر په ځان باندې ستم دی
ښېښتن پټول د قدرو پردې پیدا کړي
یو سرې د بل سرې نه په څه کم دی
تړ پیمار[1] د فرعونانو دود دستور وې
که ولس یې تل زغمې، نو ولس کرم دی
ستورتلیزو ته چې لاس شي پرسولی
ولې سود یې په کلونو د شرم شم دی
باتوران چې د کونترو ځای لره راشي
ای ویږلو! نړ هره چاو دی د غه غم دی
دې پټولنو او دود و نو لیشتکی کړ
کمنی لوی له کائناته بنیادم دی
په لویدیځ کې لږ له عقله رڼایي ده
په ختیځ کې د هر لوري نه تورتم دی

نړپیتار[2] چې د فرعون وي نړامن نه دي
نړامن هغه، چې فرعون یې ورکول کړي

۱- تړپیمار: وهل ټړل ۲- نړپیتار: د بل د ودې ته ناست.

چې بې جسه وي جابروته تېتېږي
چې جسمه وي جابر را بغـول کړي
چې د بل په سترګو وينې تول راڼده دي
روغ هغه چې يې پخپله ځيرول کړي
نه سړي شو چې سړي يې خدايان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي
چې بلزونه کړي تنزړي، بازوان نه دي
بازوان هغه چې تنزړي بازول کړي
ننګيالي د ښوند نيمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کړي
په ذروکې يې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشې لور په لوته تېرول کړي

ډکې ډکې جولۍ خلق ځي له درمن
برکت دې شه ننګياله په رشــې
ښاپيرکۍ په تورو ځمځو سر ښــاسي
سورپيا شه ختيځ رانولي پلوشې
د بازونو باتورانو پدې قات کــې
ټپوسانو ځنې غـوره دی باشـې

د دروغو، د نا حقو منزل لنډ دی

ترڅو پښې راټینګوي بهرې مشمشې[1]
لا لیدلي یې بوربستر کې کلیم نه دی
څکه کرځي فرعونان لا په نشې
دحق د وکه له خپل ځای ړقولی نشي
د باطل دا شدتونه خرخشې[2]
اروپیچ چې له نقشې د کائنات وي
په بل مخ شوی د نړۍ هغه نقشې

چې د نمر ستر که وبرېښي
غرونه واوري کاندي ویلي
حق بربال پرون هم نن دی
که یې نښته څوک په سیلي[3]
داوبو د مخ کیل نه دی
کلیمه د کانړي کیلي[4]
د نښتر د سیالي نه شوې
که په خنبرشوې ډېرې ډېلي[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده، ډنډوره. ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سیلي = ملاتړ
٤- کیلي = کرښې، ٥- ډیله = یو وا سنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدخوک بدوته نه وایي
خلقې شوې داسې ایلې
چې ژنځور باوېړې[1] وکړي
پوچې شي د دارو هیلې
له پولاد اصیلي زیږي
خرې نه زیږي اصیلې
چې نښتر له برمه دروي
نه ټینګیږي په یونیلې

لکه کس کړي په ځان غاړې
هسې قام په ځان کانې[2] کړي
د هرچا تبر له تن دی
خپلې سپینې خپله پرې کړي
هرڅوک قبر ځان له کني
هرڅوک خپلې جنازې کړي
غلیان له کوره زیږي
پلمه بازخه له پلمې کړي
هرڅوک ځانته تبې[3] سرې کړي
بیايې ځان باندې سرې کړي

۱- باویړې = ډنارو غې بیاتاندېدل، ۲- کانې = شندې - غاړې، ۳- تبې = ډکمتې تبخی

خپل عمل بري ښښن دی
خپل عمل په غاړه پرې کړي
څښتن ظلم تېرى نه کړي
هرڅوک خپله د يوې مرې کړي
د فرعون د کور له درنده[1]
کليان جګې نښزې کړي

○

په مسور[2] وباتورنه ړنګوي نوکې
د تنزيه وتودې وينې يې مسوروي
د ننګيال کړلي خېژي، سمسوريږي
ميړي واړه اوسپينځرې که سوسر[3] وي
د دوران تا بياد هغه چا دوس ده
په غښتنو ژوندون چې يې نظر وي
د تاريخ ټول نرزوري پرکونه ښيي
چې مدام د ننګيالو موټي لښکر وي
منګوان به څودحق د لارې تښتي
د هر يو لاربه آخر پدې خيبر وي

---

۱- درنده = غولی - جوس .
۲- مسور = د منوکو ننو رنګ - نيل پالش ، ۳- سرسر = دوکيا کېدونکی اور .

○

علیمه لوی چیناګر دی        تل ترتله په غور ځنګ
سوسروونه پری سپرلین دي        سیمه سیمه پری ګلرنګ

○

دکشرمشرفرق خوخود وی
څښتن لومړی دی او پسې ته یې
دیونه کچ یې په نور وبـــره
هغه قجیره، خواکمن مبره یې
چې دی خویونه د هغه خپل کـړل
هله په ولې یې، هله به شته یې
ځکه دې غوره پخپل سراخـلي
دهغه مټ یې، دهغه کړه یې
دهغه مل یې، په زړه م بسیـل یې
له سین زوغونه بربوکېنی نه یې
په سپکوکانو چې ځان دې تولې
دا له خپل ځایه لاخبر نه یې

---

۱- غوره. تورتهمت (... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ...)

په درست عمر کې بوټنه[1] دې نه ده کړې
دادې بازدې وهنده او دا مېشکار یې

یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې
ډکانې غوڅکې یې ټول عمر په لار یې

نه دې برید، نه دې ولجه، نه دې مېښود څه
هسې لوټ[2] یې او ځمکې په مخ بار یې

څه که ځان په سر و مهرانو باندې نیسې
په نظر د صرافانو کُټ بنګار یې

حج، مونځونه، تلاوت کړې روژې نیسې
ولې او س هم زناري یې، بُت ګزار یې

لږ پښه و نیسه فکر له ځان وکړه
چې دا ولې له همه قامونو خوار یې

چې همدغه مذهبونه دې امساوي
لکه ړوند له ګړنګونو به غوزار یې

دغلیمانو په مسودونـــن
چې زنارونه ُو، هغه تسپې دي

۱- بوټنه = لومړی ښکار کول، ۲- لوټ = بې هډوکو ځانده.

کتاب کسږلی، باطله کړی
دکتاب مینځ نن هغه کیسی دي
انځور هم هغه خدائی انځور دی
ولی پرې شوي پوچ کښېدې دي
چې خلیلانو راړنګ کړې ولې
دامتیانو هغه کعبې دي
داچې یې نړوې دکلیمو خیژي
چې ویخ یې کوري بې کلیمې دي
دمذهب شروتې لیندې په لاس دی
ځکه یې ویشتې تل مُوندې دي
چې حق ننګي وه ځلمي وغشي
چې بې ننګي شوه ځلمي دُرمې دي

دباتورو دورترل ده پر
لږه ناسته یې په ځاله
دشوند برد[1] کې، راځي پیتي[2]
دنصیب لیک ته اتاله
چې نیستي په هستي مار[3] یا
څه به خلاص شي له زواله

---

۱- برد = سیالی، ۲- پیتي = ورورستی، ۳- مارل = حسابول.

چې يې کره کليمه ده

ولې نه دي تول را تـــاله؟

بازاري دي خپله ستايي

په دېوال له تش پېخـــاله!!

په نزي باران پسخه شـي

اوم غـرن لوښی کلاله!

دبل کټي ته په طمــع!

هيڅوک نه کټي يې تالــه

خواره برسيره کا، تراخه به ورک شي

چاپير تولنه که هرڅو تـرخـه ده

تيرې به وي ترهغې ځـلې ځلې

چې دي ديو بانديې ديوه څومره ده

حجره، جمات کې يې رينبتيا وويـل

له يو مخيزنه ولسيا خپـه ده

د رابيا کې بورجل ته ځان رسوه

که لار د سروغنو چا په چا په ده

د صبالاره څوک د ب کولی نه شـي

منمه داوخت تکه توره شپه ده

په سپوږمۍ کوزشه مېږنی وویل
دا د بړنګ لاري لومړي کړپه ده

ښه عمل "زه یم" ږغون کړي
بد عمل د "زه یم" ږنګ شي
چې په "زه یم" شهسري (۱) شي
دوه جهانه یې قلنګ شي
شي تالا ترغه په "زه یم"
چې دوه مخي شي دوږنګ شي
بیا د "زه یم" ژوندانه دی
چې کالبوت دخاوږ وږنګ شي
چې سمسور یې "زه یم" نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي
مرګ یې هیڅ کولی نه شي
چې دخدای په رنګ کې رنګ شي
په خپل "زه یم" باندې ننګ دی
په ښښتن که دچا ننګ شي

---

(۱) شهسري = سترسړی - لوی سړی .

○

کښېنېده پرې ستا عمل دی
که دې "زه یم" سرانځور دی

شو سر هسکه دلې هوړې
چې په "زه یم" کې سمسور دی

چې ځوانکه[1] یې شي تورکې
تش لمنی، هم مختور دی

ای د خېټې غم خوړکو!
خېټه هم، خوشروند څه نور دی

دې آدم، آدم په زه یم
بې له زه یم د آخور دی

چې د تش نس او د نوس شي
سړی ذات پورې پېغور دی

○

د مېړونو تېرو تورو چوړنګ یو ړل
د اتي په امبالې چې غوړمبېدل

د هغو ښاړو بنه الوزي
سر چپه چې جړه باز ته نېغېدل

---

۱- ځوانکه: د زړې یا تخم هغه شونې تیا چې زرغونه ترې کېږي.

د هغو په طبیلو خروڼه غښتي
چې له حق ځنې ناحق ته اوړېدل

چې خوړلي سوګندونه یې د وفا وو
دار یې یښي په اوږو وګرځېدل

د ړندو کلي کې کراني خرمېږي وي
او لا لونه یې سوپیا کو خرڅېدل

د کلیم په برخه دا رنګې مژهواک وُ
چې له واکه بې واکې ته پسخېدل

○

د مېړونو پولادي متې سنګر وي
تور بریښونه یې شملې د قام د سر وي

په پوړونو د جمات خوبونه نه کړي
یرغلونه د باطل چې یې په سر وي

د مېړونو نغری کوندري شریک وي
شیخ ملي دوتر یې واړه یو دوتر وي

مخور ړاني هغه تومن دی
چې پرانستي یې په درستي نړۍ ور وي

د ړنزم چینه به یې هم چرې تاند نه کړي
چې پخپله روستې ځبلي د نښتر وي

په نېزو کې یې دوه ځنګو ستورې والړ شي
ننګيالی د نمرخاته ختلی نمر وي

که د ږېنګان لري هرڅو ستورې وزرې
لوېې مارې د باتورو په ځيګر وي

چې کاسېر وي په پړوني کې بربنډ وي
حيا خپله حيا نا کوله څادر وي

پردې بد شي د کتوې خپلې نکولې (۱)
بدي کړوني خپلو بدو له اشر وي

د ميړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
يا د هيڅ ټول مار ږ يا ټول نهر وي

○

چې يوه يې مفکوره وي
او له دې نه په ادب وي
په سره کې کنجي (۲) لاس وي
په توده کې يک (۳) جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده نه د ښو نود دستوراو لاره
چې يو څو دې په وله (٤) وي او د نورو بر خه خواره

---

۱- نکولي = پخکړې - لمده بل، ۲- کنجي لاس = خپلو کې کلک لاسونه ورکړې.
۳- يک جلب = چې آسونه يې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله = مار ږ - هوسا.

د میړونو لار(۱) لومړی توری وهل دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړ شي

د میړه نیکه دوتړ چې شته کول غواړي
هغې مهتې بهیږ راکاږي او نر شي

د قام مشر هم د قام په جامه بوّیه(۲)
چې ولس یې د شړه وي، شړیو ر شي

زمانه که ببر شوی اباسین شي
شاه ځلمي ورته پښې ښخې کړي تورغر شي

چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه
نور خو هسې خَلَقې خوشې ککر شي

د سینا په دونهه پنه ټول سر ببرى
دیوې دونمې ترنخه یو تبر شي

برغو(۳) پوک وهه، ډنګ ورکا نغاري له
دا خواره واره بنجخې(٤) که لښکر شي

---

۱- لار = قانون، ۲- بویه = پکار دی، ۳- برغو = سنکر - تورم،
٤- بنجخې = درې خچې (په اصل کې دوني بوټي سرغوته وائ).

په توربرېښ چې په میدان کې ځنګیالي وي
سر څېرې کې یې وتلي ننګیالي وي
په خپل کور کلي کې د هر خلق نامستو وي
حقملان په ولسات کې نومیالي وي
چې کلیم ورته بیرغ د یرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بریالي وي
کلیمه پښتوله، په لاس کې ببل توره
د مېړونو خو هم دغه دوه کالي وي
که لوی شی دی هغه منډ دابدالي دی
په دا څه که دچا توره ابدالي وي
په سومنات د غزاین په خوله بانګ وایي
چې په خټه کې یې ګډه بلالي ؓ وي

بازدارې پورې پیغور شولې بازداره
باتورزي دې قوشخانه کې تپوسان شول
په تولنه کې رڼا پوښتې زانغله
که وکړي ټول د سیلمي نه حاجیان شول

فرعوني او هاماني په زلزل کوره
پدې شخړو کې يو څوکه کليمان شول

چې ډيوې يې ستا پلرينې واخستلې
د مېږي له ځايه پورته شو آتيان شول

د همت سپاره دې وبوګڼېدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول

زړه ريالى له خپلې مارې پرېشانه شو
په داغه شي په ډنګ ډنګ كه ناكسان شول

اى تورانكي اوردزړه ونوله
ستا يوه كوكه وركېدلى نه شي

نتره شلونه دازغوكه وي تل
دستركو لاره څوك نيولى نه شي

دكيدړانو په اور رڼوكې چرې
دزمري غورځېب خطا كېدلى نه شي

چې شي لاس برى دفطرت په لاررو
په هغو چرګ را پربوتلى نه شي

دنن په ګټه چې يې سود كړېدى
دصبايې ميدان ګټلى نه شي

چې له دې ځمکې پورته شوی نه دی
خبر د بل نړوي سره ورلې نه شي
په شاه میره یې انګازه شویده
که یې بنجخی نن لیدلی نه شي

چې د لیچو زور پیدا کړي توره دار شي
چې چنګېز یې وتړي نو هغه لار شي
چې وسلو منځو سره کلیمه نه وي
که دغو پښان تومن وي تار پتار شي
له دستور د کائنا ته څنګ وځتی
د کندو انبار شته من قامونه خوار شي

بې وسي په دنیا لویه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لویې میراني شي کولی
چې د خیټې د غمونو نه وزګار شي
خواري بویه خو په حقې لارې بریه
خرېک کله په خولو وینو چنار شي
ته پخپل بخرکي ولې ناویسا یې
هم بخرکي چې خوندي کړې سور انګار شي

شنه راستي د سروي هيڅوک خيم نه خوري
که پري تير د خزانو نو تر پسه مار شـــي

د باطل د ويرې تکى خوکليمه ده

له نيمکړو مفکورو هيڅ نه ويريږي
د پرقامونه به د ځمکې له مخ ورک وو
خود تکه سره تيغ نه وېږي کيږي
زېږي[1] تول سمسور په دل ښه وخت ترمنځ کړي
تلوار کړندو! ديکټېوار باندې تودېږي
پلويانو د روسوا وليننـ! وا ورک
د انړي ستا سو په وړاندې به نور پېږي
بنستونه د ړوندون په يوه حال وي
ادا بنې مکوله وخت سره نوريږي
تول بدلون يا نه بدلون ړوندانه ندى
خوارهغه دى چې يو لور ته ځنګرنيږي

په شونکار د ابا سين چې شوي پورته
ولې چپ يې د مانځکي سندره نه کړه

---

۱- زېږي = زېړى.

تا راکونه دخزان نه رګونه تېرشول
خود سروي شنه جامه يې زړه نه کړه
چې رښتيا ويل دکومو خولو توړوه
بر په دار يې له رښتيا وبله نه کړه
راغلل ډېر انقلابونه دلې هوري
ولې درسته يو سالار کليمه نه کړه
مېړني په مېړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده يې سره نه کړه
تېرو تورو، تهمتونو او خوږې هم
هيڅ کچه د يتيالو عقيده نه کړه

چې د سرو وينو پياشې پکې څلېږي
شاه څلمي هم په هغو لاړو چلېږي
سر سجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په يوه هڅه نه ارزېږي
ککرې د کليمانو وي تل هسکې
ښکروري ککرې ورنه ټيټېږي
حقملان له زمانې وي پيړې مخکې
خلق نور د زمانې په دود تېرېږي

کلیمه د کائنات سر جنګړی دی

غل د رغل به له جنګ غالي پښاکېږي

ته دې خپله غاړه خلاصه په مړيه کا

دې ته مه ګوره چې کله صبا کېږي

دمېړه له مټو پاځه — دنا حق جهان نسکور کا

په چينجنو وستو ګرګو — بود هيږه پورې اور کا

دا خدايان دټينګي نه دی — ولې ته سترګې د بوړ[1] کا

دقامونو دې نه ځمکه — دآدم تاليزه کور کا

دا دغو ښنو تش لوټونه — په خلقا دجسو نور کا

دخښتن په ګنبد وکې

خپلې چارې دې انځور کا

په تيرو تورو برغند ځي

ننګيالي ځي په خپل منډه ځي

دمېړه دخولو وږم

دسپرلو له ګرده ونه ځي

---

۱. بور = زمری.

له ښېښتنه چې هم غن وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟
هغه پښې پرې کړې بويه
چې د خلقو په مر کنه ځي
د تسپو خاوند ته خيردی
که ځي دارلره، لوَنه ځي
وسپينېزې خَتّي[1] را وړه
د کلپانو آخر کنه ځي
چې په ځانګه کې پخه شي
هغه ځمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه موې
ځه يې ويره بيا له اوره
زړې مات وړوکي کور کړي
شي همغارې له شهکوره
په چرسو[2] به تر څو سود کړي
کائنات ځني پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

١ـ خَت: کميس ـ کمیص، ٢ـ چرسو: تنګ ځای

سرپخیره تل پائیږي

خیر دي نشته سرپخوره!

د فطرت په هنداره کښي

له ځښتنه ځان ته ګوره

چي ځانمن دی هغه کس دی

چي ناځانه دی ناکس دی

په سیلاب غروږ لړېږي

څه ارزښت دلې د خس دی

یو په لس، هم یو په سل دی

پیاوړي چي په جس دی

د هوسو د غزالې[1] ته

دزمري ورتېره وس دی

په زرګونو دلو سرد[2] له

یو بخری داور بس دی

ګرندو پړي بزیره ګل کړه

د مېټه وُ کاروان پس دی

---

۱- غزاله= د هوسۍ بل

۲- سرد= یووا بنه

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام لګه کرګس
په درست قام يې لګولي
له پيرو راسې کرګس
دوی ږېښمين له سره واخلي
قام له پاتې شي يکرس
روږي د ب کاندی ولس ته
بياکوی ماڼځه اودس
د بې وس وندي کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وس
د «لاترګضوا» وخت لنډ دی
لاکوئ هوا هوس

چې ښتکوړی ظالمان شي
سينه يخه د جهان شي
چې خدايان پرمخی پرېوځي
راوچت بنياد د مان شي

چې ځانګړې دوتې ورک شي
په توبه لو لنګران شي
کلیمه هله په پښتو شي
د باطل بورجل چې وران شي
زورداری کې ځاناځان وي
کلیمه کې ټول یوځان شي

پدې شخړو پرکښو کې
هم هغه ځلمی الغور دی
چې د ټول نوعی دخیره
همه چارو کې حقطور دی

پوره په جسو شه بیا ګوره
چې یوتن څنګه لښکر شي
د میړه له چارو برېښي
په تندی اخستی غر شي
هر د هغو بر خپر تیا ده
چې خرډک پاڅې نښتر شي
له تنې زوخ چې اوچت شي
لکه نمر پرې تل سحر شي

چې ښروندی وي د ښکار ځله
تو دې وینې خود شهپر شي
زمرین ګوا ښه شاه ځلمو ته
سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کږې دو مې دي
ځکه یې غشي بې پلې دي
چې له باړ چپتو ته ناست دي
پیغلونه یې ولجې دي
ولسات لکه تنزري
د ښکاریانو په ښچې دي
د بل مخه یې پتوله مخه
پرکښې نه دي ژمې دي
د نمرود وسیلې وایي
له آنرې یې عقیدې دي
چې نو مړی په سرو دي
د سرو تښې پښې دي
د باتور نخښې یې نښته
لا ملخې تولې جوڅې دي

د یو شرق زغملونه دي

دا پڅي دومره اومــې دي

پکې زه یم بوده نه شــه

وجود تشې تنستې دي

د آدم ځانګړی ، زه یم — لکه حق صمد احد دی

تن زانه دی ولي زه یم — لم یلد ولم یولد دی

د هر زړي په درون کې — د خپل ستر وجود انځوري

تېغ ، تنه ځانګې ګلونه یې — هم کامونه په خپل لوروي

دیکونکه برید میرونه — نیسي نور نور سنګرونه

د فطرت خوابزه لړنه دي — که ساره نه شي متونه

لمن څه چې ، ځادر خور کا — د سپرلي ډېر دي ګلونه

ته لامیشت په سر پراوي یې — ترون دي شخړې پراوونه

خونې خونې ستور تلیږي — تازه نه کړه یو خونه

که تنها کوته کښېنې — شي کوته به مزلونه

قدم تېز کړه ، چې غر بېږي — ستوره تلوکي جرسونه

یوه ورځ به درته راشي

ستورګزونه بېلکونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذرې غونډې شي تور غر شي
ورانګه ګډه شي په ورانګې
راډېره نوې نمر شي
چې حجرې غښتلې پاخې
نو د هګۍ ځاندرو سحر شي
ننګ له ننګه چې کوشیر شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي
چې سپینګیر سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي
هڅې هڅې چې په ګوابښ شي
نو ځوځي نوي په سر شي
شهسواران چې یک ځلب شي
د برړدونو[1] لوی اختر شي
تور په تور باندې شي پورې
سترګې سترګې یو نظر شي
لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

(1) برړدونه = ولجې، مال، غنیمت.

دښوند پښتې شي مخ لسوځي
چې شوګير تېره نشتر شي
چې کټل بخښل توره شي
بيا آدم جنت ته ورشي
چې دعقل سپاره وينښ شي
پوچ خدايان هله ډېر شي

o

د وجود توره زيبون دی    او د «زه يم» نوښتون دی
نوښتون کړه دښوند شره    نوښت «زه يم» له پاخون دی

O

يو غورځي دی اباسين دی    غروند غرونه دی يو نيز دی
يو هغه دی سپوږمۍ ده    يو يرغل دی ستورتلين دی
له تش شور لاس اوچت شوی    اوس د هر غوره غوريز دی
ستا د توري له ټکوره    کائنات تول سندريز دی
غره راغه دی، له همته    ګل لمني ګل مخيز دی
لا دښوند غرمه ده لري
دا خو اوس لا سوركهيز دی

کـه د ښـوند نقشونـه ډېـردي

تـه د واړه ښـوندانځـوريې

نور ښـوندون دي هـمـه پـلې

همـدي تـه يې چې شهـسـوريې

واړه تـوکې يو يو رنګ دي

تـه لـه رنګـه سپـرلي طـوريې

د هـوسـۍ پـه سـترګـه د ننـه

هـم بـا تور کسې د بـوريې

د ذرې پـه ځـانـدره نـمـريې

پـه قطـره سمنـدر سپـوريې

تـه پـه خمکـه کې آسمـان يې

پـه سـرو او بـو کې اوريې

د لشې سـره پيـاڅـه[1] يې

لاشه تـوره، هـم تکـوريې

چې راغونده شي مـوټې خـاوري

کـائنات شي چې ورخـوريې

د ځـجروپـه ارونګـه کـې

لـه ظـاهـرلـيـده څـه نـوريې

---

۱- پیاڅه: د شاتو دک ګبین

نور کورونه په تا تنګ دي
ته همسیال د خدای د کور یې

مفکورې به دې پرې پوچ شي
د دې یو کلیمې وړاندې
چې یې پښن سندرې وایي
په صبا یې وایي ساندې

په ټولنو کې زرغونه  دا دیوې او مشالونه
د سرهنګو شاه ځلمو دی  د خولو وینو رنګونه
د شاه مټو الامې یې  اسمانکه سنګرونه
کښیږدی یې د کړاو دي  ویرسپیرلي شالیزارونه
د ناغوسترکو شوکیو یې  شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګرېز یې  خوږې او ګرې شولانونه
د عقلي مبنود زرشه یې  هڅوبونه، تهذیبونه

د ځلې د نرګس غبن دی  پسرلي یې تا ننګه راتلی شي
په اړکه چاپیریال هم  انقلاب زرغونېدی شي
عکسمته پرګنو نه  ملهٔ د لارې ټولیدی شي

میږه مل که د ښمنستن دی — له ښمنستن مخکې کېدی شي
د تیرو ازغوله تخرګه — نوی ته وتدراستر کېدی شی
دفرعون له خپله درنده
کلیمان را پاڅېدی شي

آدمزاد لا لیشتینګ دي — لا د پرلړي له خپل ډک دي
که په تومنه باتوران دي — لا په چارو کې لولک دي
فلسفیان یې هلک فکره — لا، له زړه یې بې درک دي
په دې ویر لوی کائنات کې — په یو ځمکه، نمرتاوک دي
که خپلواکه د پرځان بولي — چې یې ګوری لا بلوک دي
د شپانه ښاري لا نه زده — شرمخان د خپل کنډک دي
لا یې عقل د پرکچه دی — لا په د پرجهلونو کلک دي
د سربنوره نغوتکو — په لاسونو کې لینزک دي
زبینا کیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولک دي

لا په سر یې فرعونان شته — لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي — لا دو چې د پرخدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول — چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسیح پاخېږي لا لند پاري مذهبيان شته
خليلان شړوني کښېږي د آذر لا لښکريان شته
هر نوښت ته کفر وايي لا مخ ختمي زناريان شته
قلمونه په اور سوځي لا د علم غليان شته
آدمتياله لا يو خوب دی لا د قام، خاوري بتان شته

سريتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حيوان شته

وخت به اخلي، ادمزی چې
له خپل ځانه اشنا کېږي
د خښتن او د خپل زه يم
په اړ يو کوچي رسېږي
وخت به اخلي داحيوان چې
د سري په پښو پاڅېږي
وخت به اخلي پوچ خدايان چې
د بربري، نسکوري
او د جهل کتابونه
د خندا توکي جوړېږي
وخت به اخلي کائنات چې
ستر آدم ته بيا تېېږي

د آدم په پاڅېدو کې
لا د وېرو پېرو څنډه دی
د دې دوو پښو څاروی ته
لا په څټ کې لوی کولنده دی

ته په بشول کائنات برېږې — خوله ځانه بې خبرېږې
ملغلره یې په زه یمه — که سیپۍ په تن بهرېږې
په یو څاڅکي کې توپان یې — په ذرې د ننه غرېږې
برسېرنه که لاک ښکارې — چې په جسس شي نو سره زرېږې
ستا توبرې توره دې "زه یمه" — هم په "زه یمه" ولجه کرېږې
که ورستي راغلی کاروان کې — خو د واړه کاروان سرېږې
مېنځ هستۍ ته دې پام نه دی — د بهر هستۍ په چرېږې
لا نیمچه آدم یې ځکه — لا د نیم ځان روزنکرېږې
انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځور کرېږې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زی دی
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سرې دی

الکتاب په ادم زرونی
لا ژبوودن آخرنی دی
که هر څو مره لرغونی دی
خو هرنن کې صبانی دی

حق لا اوس هم ناویلی
که ویلی دنده لی دی
فرعونی دی په خمار کې
ناز یې بیرې کلیمی دی
چرکه پرېږوتی سیلاب زوږ ځي
نوح پلوی بې بېړی دی
دکعبې سپایان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدی دی
یو مذهب دکمتې نه دی
دالیندی واره بې ژړی دی
خلق خبنې دبتکور دی
حکه ښخې آذری دی
ناپوهې دهر وگرې
په وگړې په غدی دی

مفکوري پوچي نيمګړي
بسکيلکونه تيزندي دي

چي خوندي دي کړه وړه شه
پچي دي وباړه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بيرته شرق په ځپل تندي شه
دباتورو جس يي بايلل
چي دچتو وهندي شه
پولي پاڅي آدم وخوري
چي دپولو ځای بندي شه
دخليج پري ته وتي
د ښتانو وهندي شه
چاتونګ د اسمان وخوړ
څوک ځغلا په ګرېندي شه

شروندانه نهول يو ځانيز دی
که هرڅومره ګڼ رنګين دی

PROPERTY OF ACKU 7550

مخ د تولو په یو مخه
که هر توکی بل مخیز دی

په یو بم په زیر چار وځي
دارباب که زر تاریز دی

لاړي لاړي یو شهلاره
تهل تلی یو شهتلیز دی

ستوری تلیز ستوری تلیز کور کور
کائنات یو شهکوریز دی

پدې دومره هیڅ ځاندره کې
ځمکه ناشې غوندې څیز دی

خو ځمکه زې په شونې تیاو
د همه شروند د توزیز دی

○

په تنزومت کېراوکړه
شیش بیا واخله ویرجهان ته

چې ذره په ولکه واخلې
متی رابنکه بیا شلمان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړې وباسه آسمان ته

له بېلي درياب ته ولاړه

له تنګي نه پلن دامان ته

غوږ کښېږده په لېنده کښېږه

بيا ورکښېږه سخ کمان ته

له سپېرغود دې ډېر شوند وکړې

لاس کړه اوږد نمر روښان ته

پوهه بوځه څېړکتياله

څېړکي راشکه ايمان ته

په نري ورځو پوه دوکي

کرچجبدلي اوسه ځان ته

PROPERTY OF ARIC Established

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**